غ.حضرت

۲۰۱۷/۰۹/۱۴

# د مفتون سُکلی او د " شپون" شپیلی

کله چه زه دېرش- شپېته کلن ماشوم وم نو می یوه ورځ (البته هره ورځ) د درانه خوب تر راپاڅېدو وروسته په وینه خوب لېدی چه د خیال پر آس سپور او د پښتنی موجودیت په پراخ او ګڼ او ځلورو فصلونو نازولی او ځپلی ځنګل کی د انسانی-فرهنګی د ژغورنکی لیاری د موندلو په موخه دي او هغه ونی او شنه ګیا ته لاس اچاوه ځو د دې پراخ ځنګل ساتونکی او سرپرست کوونکی ومومم، تر ډېر ستړی کېدونکی تلاښ وروسته بریالی شوم چه د دې ارجمندانو او ښاغلو ټاټوبی پیدا کړم. یوه نورانی او ښکلي کولبه می تر سترګو شوه، ورننوتم، په شنه او ښکلي او نورانی کولبه کی خوشحال ختک، عبدالرحمن مومند،عبدالقادر ختک، میرویس هوتک، احمدشاه ابدالی، پیر روښان، اخوند درویزه، حمید ماشوخیل او دوي دري نوری ښکلی څېرې پداسی حال کی چه په فکر او ذکر کی ډوب وه ولیدل.د ور ننوتو اجازه می واخیسته، ټولو خپل درانه سرونه راپورته او راته ئي وویل راځه ستړی مه شې، تر سلام او ادب او تعظیم وروسته پر ګونډو مخامخ ورته کیناستم، رانه ئي وپوښتل چه څوک ئي او څه غواړې او څېره دی ولی دومره ژېړه او هولناکه ده، ورته می په ډېر ادب وویل چه ستاسی جګو شخصیتونواو عالی همتونو لیدنه د دې لامل دی چه زما ستونی وچ او د خبرو سم توان ونلرم، راته وویل شوه چه بچو هیڅ خبره نده، موږ ستا ایمانی ورونه یو، وواپه هر څه چه غواړې وواپه، موږ همغه یو کوم چه تا او ستا ستړی ملی کورنی ته در پېژندلی شوی یو، لومړی ځان را وپیژنه او بیا وواپه چه د کوم زمانی کلی څخه راځې.

تر تسمئي شریفی وروسته می په نیولی ستونی او لړزېدلی ږغ عرض کړه:

زما نوم عبداللّه ابن تُراب ابن آدم ابن مُسلم ابن پښتون ابن مفتون دی.

د شلمی او یویشتمی میلادی پیړی د کلی اوسېدونکی یم.

د زېږېدو سره سم می نیکه او انا او پلار او مور په غوږ کی په زیږه پښتنی ښکلي لهجه ښکلی محمدی اذان اقامه کړ. څو شپېی وروسته یو شل کلن دېرش کلن ماشوم رانه جوړ شو.

نیکه او انا او پلار او مور می سره لدي چه د دوبی په اوږدو او تودو ورځو کی روژه نیول او سره لدي چه د ژمی په یخنی کی ئي سهار وختی د لمانځه اداء کولو په نیت په یخو اوبو اودس او وضو کاوه او سره لدي چه دواړه اخترونه او نوری مذهبی ورځی ئي لمانځلي خو ما به همیشه د هغوی له سپېڅلو خولو څخه د ځان یا نورو په هکله دا خبره اورېده چه " دا د پښتون کار ندی، پښتون داسی نکوی، پښتنی غیرت دا نه ایجابوی، پښتنی مینه او پښتنی وینه باید همیشه ګرمه وی او پښتون او پښتو او پښتونولی او..... ".

ما د پښتون د کلمې د جدّی او تکراری او مرسوم نوم سره دومره اُنس ونیو چه ځینی وخت به می د ځان سره ویل چه پښتونولی شاید یو بل آئین او دین او فرهنګ وی چه حتی کېدای شی د همغه محمدی اذان څخه کوم بله مستقلانه عقیده وی خو د لمونځونو او روژو او ترحیمی مناسباتو مشاهده به د دې باعث شوه چه د تردید دیو می ماته وخوری.

کله چه زه نور هم پدې خبره مطمئن شوم چه زما معنوی مشرانو په ډېر ځیر زما خبرو ته غوږ نیولی ؤ نو می جرئت وکړ او د یو پښتون پتوګه می خپل مکلفیت وباله چه ټول داستان ورته بیان کړم، بلی دا کار می وکړ، د خپل قاصر فکر او قاصرو سترګو لیدلی حال می د امان اللّه خان د زمانې نه نیولې تر نن پوری، ټول ورته بیان کی.

د اویایمی میلادی لسیزی پوری د سترګو لیدلی حال او د هغي بیان اورېدل د سپېڅلو ناستو کسانو تندیان د حیرت او تعجب په خوَلُو لانده شوه او د ثور د اوومی نه تر نن ورځی د بیان د اورېدو په نتیجه کی ئي پاک باړخوګان په نریو او ترږو اوښکو لانده شوه دا لا څه چه د اوښکو بارانونو ئي لمنی ور لندې خشتي کړې.زما تر بیان وروسته ئي د حیرت او غم ځورند سرونه را پورته او ماته ئي په معصومانه ږغ وویل چه رشتیا وائي؟

ما ورته عرض کړه چه زه او مور او پلار می د جُهالو په ډله کی محشور شو که می یوه جمله هم دروغ او خلاف درته ویلی وی. د حسرت سرونه ئي یو ځل بیا وښورول، په حاضر مجلس کی تر ټولو محترمو او شریفو ناستو کسانو، احمدشاه ابدالی ډېری اوښکی توی کړې او په قهرجن ږغ ئي وویل چه زه پدې نه وم خوښ چه تاسی ته می سیاسی پراخه جغرافیه په میراث پرېښوده بلکه پدې ډېر خوښ او مطمئن وم چه تاسی به زما معنوی توصیه( ټوله یو دی که غلجی که ابدالی – بنه هغه ......) هیڅ کله له یاده ونه باسی او تر دې خبری وروسته ئي سر بیرته پر ځنګنو کېښود او د حیاء ډکی ژړا ته ئي ادامه ورکړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خوشال ختک پداسی حال کی چه رېږدولې ټُره ئي په کیڼ لاس او شعری دیوان ئي په ښی لاس کی نیولی ؤ راته وویل بچیه! قلم او توره لازم او ملزوم دی، بېله توری قلم او بېله قلمه ټُره په درد نه خوری.ما ورته وویل بابکه! تا یو غلیم درلود چه مغول نومېدی خو موږ د خپل نفوس په شمېر غلیمان لرو، نه څوک ټُره پلاس کی را ته پرېږدی او نه هم قلم،او که اجازه هم راکړل شی په ټُره او قلم د خپل وررور سر او ژبه غوڅوو.
عبدالرحمن مومند پداسی حال کی چه څېره ئي د پټ خښم له امله تکه سره وه په مؤقر ږغ وویل چه بچیه همیشه می تاسی ته د عشق او صفا او صمیمیت توصیه کړېده خو تاسی فقط د هغي نه یوه وچه هنری- ادبی ګټه پورته کړېده نه ژوره عملی ګټه.ما ورته عرض کړه یا ښکلي بابا ستا قربان شم، ته څومره سپیڅلی وی او ئي، نن موږ په بده ناروغی اخته یو، که د عشق اظهار وکو راته ویل کیږی چه یا احمق دی یا شیاد او توطئه ګر.
لنډه داچه هر مبارک، خپل دردونه او اندېښني په یو او بل ډول بیان کړي.
په پای کی خوشحال ختک رانه وپوښتل چه ستاسی د زمانی کلی ملکان او مامورین په څه سرنوشت لګیا دی؟ هغوی ستاسی سره د دې ستونزو په مخنیوی یا هواری کی مرسته نشوای کولای او مرسته ئي نده کړي؟
ما ورته په جواب کی وویل: چه آیا مقصد مو د کلی د ملکانو څخه ملا مشک عالم، محمد جان خان، او نور کشران لکه محمد ګل مومند، الفت، رښتین، بینوا، رشاد، حبیبی،خادم، روهی او نور دی؟ بلی، همدا
ما ورته وویل هغوی خپله د یو ډول غیر محسوس فشار له امله چه د نړیوالو لوبغاړو د لوبو محصول دی، د عسل د مچمچیو غوندی خپل خالص عسل یوازی او یوازی د حاکمی دستګاه د ارادې په اساس په ټاکلو ځایونو کی تولیدوی او دردوونکې داده چه روشنفکران مو د ډېر درد له امله دومره دردمن شویدی چه اصلاً نه پوهېږی چه درد ئي چیرته دی، صالح ترین روشنفکر مو "عمرخیام" غوندی د شک او تردید او وچ اعتراض په مار چیچل شوی روشنفکر ؤ او دی.
مخکی لدې چه د هغوی وروستیو آهونو او توصیئو ته غوږ شم د عبدالرحمن مومند څنګ ته ورنژدې او په مبارک غوږ کی می ورته وویل:
"بابک جانه! د حاضر مجلس اکثره ناست کسان زموږ د فرهنګی- ملی موجودیت د آسمان ځلانده ستوری دی خو ته را ته یوې ځلاندی سپوږمی (هغه سپوږمی چه د شپې لخوا د ګټورو او خوندورو سابو د نشو نما او همدارنګه د عشق د سمندرونو د مد او جزر باعث ګرځی) غوندی ښکاری، ستا د علم او تصوف او پراخی سینې په اساس د یوې مناسبی فتوا د صدور په هیله غواړم یوه ډېره ځانګړې او خصوصی پوښتنه ولرم چه البته د مور پلار وړونو خویندو دوستانو او هیوادوالو په پټه او غیاب کی، آیا زه اجازه لرم چه خپل هغه ایمان چه د نیکونو له لیاری راته د پښتو او پښتونولی د محض او خالص اصالت او اصلیت په هکله تلقین شویدی د څه مودې لپاره مُعلق او ځوړند او له ځانه لیری کړم، ځکه داسی راته ښکاری چه د نن ورځی د پښتو او پښتونولی په دریاب ورګډېدل له هغه محمدی اذان سره په ښکاره تناقض کی دی کوم چه زما د تولد په لومړی ورځ زما د وجود په سلول سلول کی ځای نیولی دی آیا زه کولای شم د نن ورځی د پښتونولی د اصالت د ایمان څخه د هغي تر اصلاح پوری لاس په سر شم؟"
ده مبارک په ځواب کی راته وویل:
اول داچه ژبه یوه وسیله ده نه یو هدف.
دوهم داچه عشق او مینه او صفا او صمیمیت د ټولو ښېګڼو ترجمان دی چه طبعاً د پښتو او پښتونولی ښېګڼه هم د عشق په قالب کی تعریف کېدای شی او کوم مستقل ارزښت او موجودیت ندی.
دریم داچه هر هغه دریاب چه هر څومره ذلال او صاف او پاک هم وی خو که د خطرناکو جناورانو او مضرو موادو د تهدید احتمال پکی موجود وی د هغه دریاب نه مؤقتی راوتل یو عقلی واجب دی.
څلورم داچه پُوف کول هم د اور د لمبو د وژلو باعث کیږی او هم د اور د لمبو د لا تازه کولو باعث. پدې اړه لری چه دا پُوف کېدل د چا لخوا په څه ډول او په کوم نیت او د کومی زاوئي څخه تر سره کیږی.
په پای کی هر ګران مشر د خپلو عقائدو په رڼا کی یو څو مهمی او ارزښتناکي توصئي له خپلو مبارکو خولو را وایستي چه البته زما بیان هغوی ته او د هغوی د ګټورو توصئو او نصیحتونو براډکاسټ اوانتقال او یادونه اوس ګړی زما !او زما ګرانو لوستونکو د هاضمي د قدرت څخه اوچت ښکاری.

## امّا د واقعی پردې بیان:

دېرش کاله مخکی می د واده په دویمه یا دریمه ورځ د سدری لاندی او لوړ جیبونه ښه ونښتېزل څو یو څه میده روپیې ترې را توی شوې، ولاړم او یوه غښتلي او چټکه راډیو می رانیول. د شمالی اروپا د دوبی اوږدې ورځی او ژمی اوږدې شپې او پراخ آزاد وخت او د مرستون پوخ چک، همدارنګه دوه ډنګر نسونه او دوه کلوچ غابونه او دوې ژوری د چایو پیالي او د لوښی مینځلو مختصر غم د دې فرصت راکړ چه ټوله ورځ د خپل ګران هیواد د حالاتو څخه ځان خبر کړم، بېله راډیو ا س ر ا ء ی ل، نور می د ټولی نړی راډیوګانی چه زموږ په ملی ژبو خپرېدې حتی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د راډیو مسکو او ځینی وخت راډیو کابل په ګډون، اورېدې، د راډیو غوږ نیولو معتاد شوم، تر دې چه څو ما راډیو نه وای لګولې د خبرونو ویاند په خبرو پیل نه کاوه!!!!
ښځه می تر اوسه د طنز پتوګه را ته وائی چه ما به درته ویل مستې نسته تا به ویل چپ که مهم خبر دی. البته د طالبانو تر سقوط وروسته می راډیو په یخدان کی زندانی کړه هم د نابودی په نیت او هم پدې نیت چه د ټولو راډیوګانو کارکوونکی ګوندی ریزش او ذکام او رخصت شی!!!، تر هغه وروسته می هیڅ ډول راډیو ته غوږ ندی نیولی او تلویزون ته هم ندرتاً ګورم.

## اصلی خبره:

کله چه طالبانو کندهار ونیو او د نورو سیمو د نیولو په لټه کی شوه، زما پر انسانی- مذهبی-وطنی او سلیقوی روحیاتو ئې ډېر بد منفی تأثیر وکړ، البته د علت بیان ته ئې نه اړه شته او نه هم شاید ګران لوستونکی ته مهمه او جالبه وی.
ما د اروانباد شپون نوم تر هغه پوری چه د امریکا ږغ سره د غوږ آشنائی پیدا کړم، نه ؤ اورېدلی یعنی د شپون د نوم او شخص سره همدا د امریکا ږغ له لیاری آشنا شوم.
د کندهار تر سقوط څو ورځی وروسته د امریکا ږغ په یو پروګرام کی چه اوس ئې زما نوم هېر دی، د شپون په سرپرستی د طالبانو یو تکړه مشر د مامدخان مُتکی( چه البته ځان ئې متقی باله) دې پروګرام ته رابلل شوی ؤ، د راډیو معتاد او د طالب ټکولو ته تلواری مارشال غ.حضرت ، راته هیجانی شیبه وه.
د پروګرام د پیل سره سم می د ستودیو شمېره ووهله، د راډیو سره رُخ شوم خو د مستقیم پروګرام سره د تماس لپاره په لین کی منتظر وم چه البته د تلفون له لیاری می د پروګرام ژوندی بڼه هم اورېده، انتظار می تقریباً شل دقیقې دوام وموند، زما نه مخکی پنځه شپږ کسان چه تقریباً ټول کنداریان او پښتانه وه، ښاغلی مُتکی ته په بیانی شاخیز یا رسم ګذشت تېرېده او د طالبانو ټوله کارنامه او شخصیت ئې تائیداوه، مُتکی هم په اصطلاح غوښه اخیسته البته د هډوکو سره.
کله چه زما نوبت شو، شپون راته وویل بلی، ځان معرفی او وړغېړه ،یعنی زما نوبت شو او مُتکی هم د نورو غوښو اخیستنې په هیله، ومی ویل:
زه مولاداد یم د ډېمارک څخه ږغېږم ( البته د ښځی د تشویش د رفع کولو او احتمالی تهدید پخاطر می ) مستعار نوم واخیست، مُلا ساب یوه پوښتنه لرم،
مُتکی وویل مهربانی، یعنی درته ټینګولای ئې سم.
"پوښتنه داده چه په اسلام کی جغرافیائی - سیاسی سرحد نشته او فقط عقیدتی سرحد مطرح دی، او تاسی هم ځانونه د اسلام سرښندونکی او متخصص ساتونکی بولی، تاسی چه په کندهار کی موزیک او ډُول او سُرنا او ورَکی او خریلی ړیری په اعدام محکوم کړي آیا د دې احکامو اجراء پر تاسی باندی په کوټه او چمن او پیښور کی فرض او واجب نده؟ هلته هم بُتخاني شته دی هم سینما خاني او هم فساد خاني، که مو دا احکام هلته هم اجراء کړه نو رشتیا چه فرشتي یاستی که نه د کوم بل چا لخوا د کوم بل پلید مقصد پخاطر زموږ پاک وطن ته رالیږل سوی یاست."
زما د پوښتنې او جواب د انتظار سره سم شپون په ډېره قهرجنه لهجه راته وویل چه دا دی څه ډول مرموزه! !!!
پوښتنه وکړه؟
د مُتکی جواب هر څه چه ؤ چه البته ماته له اورېدو مخکی لا هم د منلو وړ نه ؤ خو هغه څه چه زه ئې ډېر و ځورولم هغه د شپون تُند غبرګون ؤ چه البته ما هم ورته وویل چه پوښتنه که مرموزه ده که نده، مُتکی ساب ته متوجه ده نه تا ته.
دوې ورځی وروسته می د راډیو دفتر ته زنګ ته وواهه او شپون صاحب می پسله ډېر تلاش ومونډ او په ډېره مینه می ترې وغوښته چه یو څو دقیقې راسره د وطن د حالاتو په هکله وړغیږی خو هممغه ورځ ئې د بحث د ادامې څخه معذرت وغوښت او کومه بله ورځ ئې راته وټاکل کومه چه دده د کار تر وخت وروسته وی.
کور ئې ودان، پر ټاکلی وخت ئې زما زنګ ته جواب ووایه.
ډېر درونډ او غلیظ او ګاټه او پیچلی او په عین وخت کی صمیمی بحث مو تر سره کړ.ډېر با سواد شخص ؤ او په ضمن کی پر پښتو مین.
ماته ئې وویل چه ته څنګه مولاداد ئې چه د مُلا داد دښمن ئې، ما ورته وویل چه د پښتو او مسلمانی د سختی صدمې د احتمال په خاطر ئې دښمن یم، د پنج کتاب او پنج کباب او پنج پنجاب د مُریدانو څخه د پښتو سره د وفا توقع به یوه خیالی توقع وی.
خُلاصه تر ډېر جدّی او صمیمی بحث وروسته می شپون ته وویل چه شپون صاحب!
که ستا ارمان د طالب د حاکمیت تر سیوری لاندی تر سره شو هغه وخت به ستا په ویاړ درسره پیاله وجنګوم او که دی ارمان تر سره نشو نو به کلّه در سره وجنګوم او هر یو چه بېسده سو هغه مات دی، وې خندل وېل ئې ښه خبره ده، ما ورته وویل امریکي او افغانستان ته زه نه ځم که وسو په کوم بل ځای کی به د دې پیالي او کلّي جنګولو لپاره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره وغواړو، ده ویل نه، یا دلته یا افغانستان.په هر حال د لومړی او وروستی ځل لپاره مو صمیمی مجلس پایته ورساوه البته تلویحاً ئې هم زما د منطق د چګش د درد پر احساس اعتراف وکړ.
ښه خوږ ژبی ادیب ؤ، روح دې خوښ وی.
د نکل کار دی، څه سر مو در خوږوم.
زما د مشری خور اولادونه پر ما ډېر ګران خصوصاً مشره لور ئې.
یوه ورځ ئې موبایل ته زنګ را ووهه چه راسه کور ته یو میلمه لرو.
ما ورته ویل زه د خپل مېلمه د د غوړولو او مړولو او ګرَولو حوصله نلرم نو ستا د میلمه به څه حوصله ولرم، ویل راسه د فلانی جانی پخاطر چه پر تا ډېره ګرانه ده.
زه هم د فرصت د موندلو په صورت کی ورلم، د ډوډئ خوړلو د میز شاته یو مؤقر او هیکلی او په ضمن کی غیر متواضع سپین ږیری ناست ؤ، خور می راته ویل دا شپون صاحب دی د فلانی جانی په خواستګاری راغلی دی. تر صمیمی روغبړ وروسته یو څو شېبې ورسره کینستم او د چای څکلو په ترځ کی می پر هغه جیب تینګ لاس ونیو کوم چه د تلفونی صحبت خاطره پکی پرته وه.
د کور تر راوتلو مخکی می خور رانه وغوښته چه د حاضرینو سره یو ګډ عکس واخلم چه البته هېر می دی چه زما دا ټینګار چه په مباح کارونو کی می د عکس سره نده جوړه، نتیجه ورکړه که نه.البته شپون صاحب څو میاشتی وروسته بیا د زوی د واده د مراسمو پخاطر دلته تشریف راوړ چه البته دا ځل د خپلو سلیقوی انډیوالانو سره په خواړه مجلس بوخت ؤ چه نه می وغوښتل مزاحم ئې شم.په هر حال لومړی می فکر کاوه چه شپون د راډیو یو ساده ویاند دی او د تحصیل کچه ئې راته معلومه نه وه کلونه وروسته می د هغه لنډی او خوندوری لیکنی د تاند په پاڼه کی ولوستلې ،رشتیا هم چه ښه اکاډمیک لیکوال ؤ روح دې خوښ وی.
لکه چه کیسه اوږده شوه.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ